مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

عبدالغفور لیوال

۲۰۲۳/۰۷/۲۱

# اسرائیلیات

په اسلامپوهنه کې «اسرائیلیات» هغه اساطیري افساني دي، چې د بني اسرائیلو ترمنځ دود وې او په لومړنیو هجري پېړیو کې د مسلمانشویو یهودو له خوا په اسلامي متونو ورګډې شوې.
پخپله «اسرائیل» د یعقوب (ع) بلنوم یا لقب دی، په عبري ژبه کې يې ګڼې ماناوې شته، چې هره یوه يې د یهودو په اسطورو کې ریښه لري، د خدای سرتېرى، یا له ملائیکو سره غېږه نیونکی.
[تر دي هاخوا په یهودي سرچینو کې بله مانا هم ښندي، چې دلته يې نه رااخلم.]
راعربي شوې مانا يې له « إسراء» مشتق شوې ده، چې په شپه کې ګرځېدا ته وايي. روایت دی، چې حضرت یعقوب (ع) به د خپل ورور عیسو (عیشو) له وېرې د شپې ګرځېده:

**پـیکرت دارد اگر جان بصیر**
**عبرت از احوال اسرائیل گیر**
اقبال

بني اسرائیلو د خپلو پیغمبرانو او نورو اساطیري شخصیتونو په اړه له مبالغو ډک خرافاتي روایات جوړول، چې روسته روسته يې یو شمېر اسلامي متونو ته هم ورګډ کړل. وهب بن منبه (۱۱۴ هجري مړ) په همدې نامه (کتاب الإسرائیلیات) و لیکه .روسته مسعودي، ابن کثیر او نورو مفسرانو هم دغه اصطلاح وکاروله او دا اړتیا يې وښووله، چې قرآن او صحیح حدیثونه باید له جعلي روایاتو (اسرائیلیاتو) څخه بېل او لرې وساتل شي.
تاسو به وایاست، چې سریزه اوږده شوه، اصلي خبرې ته راځم. اسرائیلیاتو دوه لوی تاوانونه راپېښ کړل:

1 - د دین اخلاقي، حقوقي، تعاملي، ویښوونکي او روښانوونکي احکام يې د خرافاتي افسانو په دوړو کې تت کړل، څکه هرچا سره دومره پوهه نه وه، چې له روښانه دیني متونو څخه خرافات او اسرائیلیات بېل کړلای شي.

۲ -تر دویمي هجري پېړۍ روسته، چې د سیاسي واکنیوني او واکساتنې لپاره د وسیلې او حربې په توګه دین کارېدنه پیل شوه، واکمنو او غوارړه مارو شیخانو او درباري تش په نامه ملایانو يې د واکمني دستګاه د وینا و کړنو د ملاتړ او واکساتنې د توجیه او سپیناوي لپاره د نویو اسرائیلیاتو په جعل و تولید پیل وکړ. زړو اسرائیلیاتو د تخییل په څواک ځانګې وکړې، هرچا په حضراتو ابراهیم، اسحق، یعقوب، موسی، عیسی، یوسف، سلیمان، داود علیهم السلام پسې روایتونه جوړول او داسې يې اوډل، چې په هغو کې به خامخا د واکمنو غوښتنې او کړنې توجیه کېدې.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

د خوبونو لیدل هم زیات شول، هر شیخ و ملا به یو نه یو استازی په خوب لیده، چې د واکمن پاچا ستاینې یې کولې یا یې دعا ورته کوله او یا یې په لښکر کې تر شا ولاړ و. حضرت خضر به د ورځې سل ځله په دربار کې حاضري ورکوله، داسې نو سیاست په اسطورو او اسطورې په سیاست ورګډې شوې.

اسطورې راکښونکې (جذابې) دي، دا پخپله پراخ بحث دی، موږ ټول په اساطیرو میین یو. دا د انسان رواني ځانګړنه ده. وچ احکام، اخلاقیات، عقاید او حقوقي تعاملات دومره په زړه پورې نه وي، لکه اساطیري افسانې.

څومره چې لسیزې او پېړۍ اوښتې اسرائیلیاتو پر حقایقو منګ جوړاوه، پوړ پر پوړ یې پوښل او تر نن زمانې پورې خرافاتي اسرائیلیات، د واکمن سیاست په ګټه جوړې شوې اساطیري افسانې لاهم تولیدیږي، خوبونه لیدل کیږي او د واکمنو اعمال د هغوی د پلویانو له خوا د جعل شویو روایاتو په مرسته توجیه کیږي.

اساطیری خوبونه، چې په قلقلو او طنطنو دیني څېره ورکول کیږي، اوس هم د سیاست په خدمت کې دي او خلک همدغه څه دین یا د دین برخه ګڼي.

له بده مرغه، په دې اړه څه ویل هم له ګواښه خالي نه دي. که نه د اسرائیلیاتو د تولید او جعل د مخنیوي په اړه څرګند احادیث شته.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ